قوانين موږ خوندي ساتي – راځئ چي تاسي خوندي وساتو

سکاټلنډ ته بنه راغلاست

## يوه لارښوونه

# د سکاټلنډ د قانون

يوه د همکارئ پروژه له

ايچ اين ډی ليګل سروس د نيو کالج لانارکشايرمحاصلينو،

کراون افيس او پروکيوټر فيسکل سرويس

او د سکاټلنډ پوليس سره

New College Lanarkshire

CROWN OFFICE & PROCURATOR FISCAL SERVICE

SCOTLAND'S PROSECUTION SERVICE

POLICE SCOTLAND

Keeping people safe

## مننې او کوروانی

د دغي کتابچي خپرول د لاندینیو له مرستي او کومک پرته ممکن نه ول:

- سکاټش ریفیوجی کونسل
- ماری هیل اټیګریشن نیټ ورک
- دی بریج پروګرمز
- جیما والس *(ارټ ورک عکسونه)*
- جوش کیرک لنډ *(پیلیکیشن ریلیشنز)*
- امبر رافرتی *(فرنټ کور ډیزاین)*
- ګاری ستارک *(ګرافیک ډیزاینر، نیوکالج لانارکشایر)*
- جون کیلی *(سي او پي ایف ایس)*
- پیټر مکډونلډ *(سي او پي ایف ایس)*
- ګیرتی والس*(سي او پي ایف ایس)*
- داریو دی اندریا *(پولیس سکاټلنډ)*
- نیو کالج لاناکشایر
- دی کراون افیس
- ایندړ پروکیوټر فیسکل سروس
- پولس سکاټلنډ

ځانګړې مننه:

- د ار تی ان. فرانک ملهولنډ کیو سي لارډ ایدوکیټ
- ایچ ایندی لیګل سروسز سټوډنس
- ایلینور لافرتی (لا لیکچرر، نیو کالج لانارکشایر)
- میری نیکولسن *(د نصاب او کوالتی لیډر، نیو کالج لانارکشایر)*
- کارن یویل *(پروجیکټ منیجر او ټیم لیډر)*
- لاورین میلر *(ټیم لیډر)*
- نیکوله واکر *(ټیم لیډر)*
- سارا تیروز *(ارټ ورک عکسونه او ټیم لیډر)*

موږ په سکاټلنډ کښې پناه ګزینو ولسون یعنی ریفیوجي کمیونټي ته مننه وایو چې د دغي کتابچي په خپرولو کښي يي مرسته او کومک راسره وکو.

**موږ تاسي ته په زموږ په هېواد کښې ښه راغلاست وایو او په سکاټلنډ کښې تاسي ته ښه ژوند غواړو.**





## رومبۍ خبرې

زه د دغي کتابچي په تاییدولو خوشال یم چي د نیو کالج لانارکشایر(مادرویل کېمپس) د ایچ این ډی لیګل سرور لخوا تیاره کړل شوې ده چي هغه خلکو ته لاربښوونه وکوي چي سکاټلنډ ته راځي چي دلته ژوند وکړي.

دغه پروژه زما زړه ته رانیژدې ده او پر هغه مهال راپیدا شوه کله چي زه په یوې داسي قضیې کښې له لوستونکو او عملي سره مخامخ سوم چي ما پرمخ بوتلله. د دمي پر مهال ما له لوستونکو سره خبرې وکولې او له هغو خبرو اترو څخه د دغي کتابچي خیال راوزېږدلو. له هغه وخته راهیسته کومه جذبه چي دوی په پرلپسي توګه ښودلې هغې پر ما باندي ډېره اغېزه کړې ده او زه يي هڅولی یم. د مامورینو لخوا د یوې خشکي او رسمي لاربښوونې پرځای دا یو عملي او په ساده انګرېزي لیکلی سند دی چي ډېرو خاکسارو سکاټانو تیار کړی دی چي د سکاټلنډ په هکله او د سکاټلنډ د قانون په هکله یوه مانادارہ او عملي مشوره ورکوي و هغو خلکو ته چي په رومبي وار زموږ هېواد ته راځي.

په یوه نوي هېواد کښې ژوند بسیا کول کېدلای شي چي یوه له څوب او پرېشانۍ ډکه تجربه وي او د هغه هېواد د دود او قوانینو په هکله لاربښوونه همېشه په اسانه هم موندل کېږي. دغه کتابچه یوه بېلګه ده د هغه ښه کار چي په ټول سکاټلنډ کښې ترسره کېږي چي توپیري چلند له منځه یووړل شي او چي د ټولو خلکو پالنه وشي دا پروا نه لري چي هغوی له کلونو دلته مېشت دي او که اوس تازه راغلي دي. د لوستونکو او عملي ستاینه کېږي د هغه زیار لپاره چي د دغي کتابچي په تیارولو کښې دوی ګاللی دی.

دی ار تی. فرانک مولهولنډ کیو سي

لارډ ایدووکیټ



# محتويات

**کورنۍ ..... 6**
واده ..... 6
طلاق ..... 6
دوالدينو مسوليت ..... 6
کورنۍ تاوتريخوالى ..... 7
اوميدواري او اولاد اچول ..... 8
د ننګ پر بنسټ تاوتريخوالى ..... 8
د جينکو ختنه کول ..... 8
**قانون په کور کښې ..... 10**
الکوحل ..... 10
سيګرټ څکول ..... 10
د تيليويژن لايسنس ..... 10
د پيسو په پور اخيستل ..... 10
**قانون په کوڅې کښې ..... 12**
د ټولني ضد چلند ..... 12
اولسي نظم ..... 12
چتلي يا کثافات ..... 13
د خلکو په منځ کښې بېهودګي ..... 13
درول او تالاشي ..... 13
له پياده رو څخه کار اخيستل ..... 13
**د ګاډو او موټرو قانون ..... 15**
**د کار قانون ..... 18**
**په سکاټلېنډ کښې د جنايت او جنايي تېري قربانيان ..... 20**
برید ..... 21
اتشيني وسلې ..... 21
وسلې ..... 21
جنسي تېرى ..... 22
فاحشه توت ..... 22
د کرکي جنايت ..... 23
انسانی قاچاق ..... 24
نشه يي توکي ..... 24
د پيسو مينځل ..... 24
غلا ..... 25
ټولنيزې رسنۍ ..... 25
پر حيواناتو ظلم ..... 25
**د جنايت د قربانيانو مرسته : ..... 26**
**قانوني لاس په سر کېدنه ..... 28**



# کورنۍ



# کورنۍ

## وادهٔ

هر څوک چي تر ۱۶ کلن وي يا د دغه زيات عمر لري واده کولای شي. په دې کښي له مخالف جنسي او همجنسي دواړه جوړې شاملي دي.

په يوه وخت کښي تر يوه زياتو کسانو سره وادهٔ کول غيرقانوني دي.

## طلاق

که تاسي نور په واده کښي پاته کېدل نه غواړئ نو په ځانګړو حالاتو کښي طلاق اخيستلای شئ. په دغه حالاتو کښي بدکاري، نامعقول چلند يا که چيري تاسي د يوې مودې راهيسته جلا اوسېږئ.

## د والدينو مسوليتونه

تاسي بايد مسول اوسئ او خپل ماشوم خوندي وساتئ. مورپلار بايد خپل ماشوم يوازي او بې څارني په کور يا په کوم بل ځای کښي هيڅکله پرې نه ږدي. تر ۱۶ کالو کم عمره ماشوم د شپې مهال بايد هيڅکله په کور کښي يوازي پرې نه ږدئ.

که تاسي خپل ماشوم يا هغه ماشوم چي ستاسي تر پالني لاندي دی ووهئ نو کېدلای شي چي له تاسي قانوني چلند وشي. په ځانګړي توګه، که تاسي خپل ماشوم پر سر ووهئ، هغه ولړزوئ يا يې په کوم څيز ووهئ، نو تاسي به قانون مات کړی وي. ماشوم په بدني توګه وهل يا په ذهني توګه نقصان ورته رسول وروسته بيا په راتلونکي ژوند کښي پر هغه باندي اغېزه کوي.

تاسي هرومرو خپل ماشوم له ۵ کلنۍ څخه ښوونځي ته ورولېږئ: دا قانون دی او عمل ورباندي نه کول يو جنايت دی. که يو ماشوم ښوونځي ته باقاعده نه ورځي نو کېدلای شي چي موروپلار سره يې قانوني چلند وشي. دا به د حاضرۍ پر کچي او د کور حالاتو باندي اړه لري.



## کورنۍ تاوتريخوالی

کورنۍ تېری يا تاوتريخوالی هغه څه دي چي يو کس کوم بل کس چي ورسره يو ډول خپلوي لري (يا يې ورسره لرله) ته تاوان وررسوي. ضروري نه ده چي هغوی بيل جنسي شريکان وي او دا هم ضروري نه ده چي هغوی په يوه مکان کښي ژوند سره کوي. ښځي او سړي دواړه د کورني تېري سره مخامخ کېدلای شي. په دې کښي د ښځو لخوا پر سړيانو باندي تاوتريخوالی او د شريکانو يا پخوانيو شريکانو ترمنځ او د همجنسانو ترمنځ تاوتريخوالی هم شامل دی.

هغه جنايات چي په کورني تېري کښي راځي ډېر زيات دي او بدني، جنسي، احساساتي يا ذهني تېری پکښي شامل دی. پوليس به د کورني تېري ټولو پېښو ته زيات لومړيتوب ورکوي. هر چېرته چي ممکن وي، نو هغوی به دا ډاډ ترلاسه کوي چي کله د يوې پېښي خبر راشي نو د پوليس افسران به سملاسي ځانونه وررسوي. کله چي پوليس افسران د کورني تېري يوې پېښي ته ورځي نو رومبی کار يې د قرباني کس، د هغوی د کورنۍ او هلته د نورو کسانو ژغورنه او ښېګړه وي.

چېرته چي پوره ثبوت وي، نو مسول کس به تور لګول کېږي او کېدلای شي چي توقيف کړل شي چي محکمې ته يې وړاندي کړي.



## امیدواري او اسقاط حمل

د امیدوارئ په هکله معلومات پر

www.readysteadybaby. org.uk

یا این ایچ ایس ته پر ۱۱۱ باندي د زنګ وهلو له لارې ترلاسه کېدلای سي.

که تاسي خپلي امیدوارئ ته دوام نه ورکولو پرېکړه کوئ او د حمل پر اسقاط یا ختمولو فکر کوئ نو تاسي ضرورو ژرترژره طبي مشوره ولټوئ.

## د ننګ پربنسټ تاوتریخوالی

د ننګ پربنسټ یا ناموسي تاوتریخوالی یوه داسي اصطلاح ده چي د هغه جنایت یا پېښي تعریف کوي چي د یوی کورنئ او/ یا ډلي د فرض کړل شوي ننګ ناموس د دفاع لپاره ترسره کړل شوي وي یا کېدلای شي چي ترسره شوي وي. دا زیاتره، مګر همېشه نه، د ښځو یا نجونو پرضد ترسره کېږي، د خپلو کورنیو یا خپلو ډلو لخوا.

کوم کسان چي 'ناموسي جنایات' کوي اکثره یې په دې دلیل کوي چي قرباني (قربانیانو) کورنئ یا ډلي ته پیغور وراړولی دی. پولیس به هرډول ناموسي تاوتریخوالي سره جدي چلند کوي او بشپړه پلټنه به یې کوي.

زورکي واده د ناموسي تاوتریخوالي یوه بڼه ده او په سکاټلنډ کښي دا یو جنایت دی چي یو څوک په زوره واده کولو ته اړایستل شي یا یې د اړایستول هڅه وشي.

## د نجونو ختنه کوله

د ښځینه وو د اعضای تناسل غوڅول (چي کله کله یې 'پرې کول' یا 'ښځینه ختنه' هم بولي) هغې طریقې دي چي بغیر د کوم طبی دلیل د ښځې تناسلي غړی بدلوي یا یې زخمي کوي. دا یو انتهایي دردناک کار دی او ډېرې جسماني ستونزې جوړلای شي، کله چي دغه عمل ترسره کېږي او هم له هغه وروسته. دغه عمل په برتانیي کښي غیرقانوني دی. که څوک د ښځئنیه وو د تناسلي غړې د غوڅولو انتظام په کوم بهرني هیواد کښي کوي نو هم غیرقانوني عمل دی.



# قانون په کور کښې



# قانون په کوڅې کښې



# قانون په کور کښې

## الکوحل

په سکاټلنډ او برتانیې کښې الکوحل یوازې په هغو ځایونو کښې پلورل کېږي چې اجازه لري او یوازې هغه کسان یې اخیستلای شي چې عمر یې ۱۸ کاله یا ترهغه زیات وي.

د یوه داسي کس لپاره الکوحل اخیستل چې عمر تر ۱۸ کالو کښته وي یو جرم دی. په یو داسي کس الکوحل پلورل چې عمر یې تر ۱۸ کالو کښته وي هم یو جرم دی.

تاسي ثابتولای شي چې تاسي تر ۱۸ کالو زیات عمر لرئ او الکوحل اخیستلای شئ چې ځینه رسمي اسناد وربښکاره کړئ، لکه، نیشنل ایډنټیټي کارډ یا پاسپورټ یا ډرایونګ لایسنس.

## سګرټ څکول

د سګرټو یا نور د تمباکو تولیداتو اخیستلو لپاره تاسي باید تر ۱۸ کالو زیات عمر ولرئ.د تمباکو په تولیداتو کښې سګریټ، سیګار، په لاس ډکېدونکي تمباکو، اي-سیګریټ او ژوونکي تمباکو شامل دي.

په ډېرو عامه ځایونو یا د کار ځایونو کښې سیګریټ څکول یا د یوه داسي کس لخوا چې عمر یې تر ۱۸ کالو کم وي اخیستل ناقانونه دي.

تاسي د تمباکو تولید باید فقط له یوه دوکان څخه واخلئ.

## تیلیویژن لایسنس

که تاسي په خپل کور کښې تیلیویژن لرئ چي د تیلیویژن پروګرامونه ثبت کړی یا یې وګورئ لکه څرنګه چې دا پرواګرامونه پر تیلیویژن ژوندي راځي، نو بیا تاسي باید یو لایسنس ولرئ.که چیري ستاسي تي وي فقط د ډي وي ډي کتلو یا کمپیوټر ګېمز لباره وي نو بیا تاسي لایسنس ته اړتیا نه لرئ.

## د پیسو پورول

تاسي پیسې باید له یوه منظور شوي پور ورکونکي څخه پور کړئ

# قانون په کوڅې کښې

## د ټولنې ضد چلند

هغه کارونه دي چې نورو خلکو ته خطر یا پېښوي یا کېدلای شي چې پېښ يې کړي.

**په ټولن ضد چلند کښې دغه کړنې کېدلای شي چې شاملې وي:**

- شور
- بې ادبه چلند لکه چيغې وهل، ښکنځل یا جګړې
- ګاونډیانو او نورو خلګو ته اخطارونه ورکول
- ژباني تېرې
- داسي بد چلند چې په نورو کښې خپګان يا وېره پیدا کوي، د بېلګې په توګه، د لوی عمر په خلګو یا معلولینو کښې
- د کور چټلي په کوڅې، عمومي احاطو یا باغونو کښې کوټه کوله
- جایداد ته تاوان رسول





## عامه نظم

تاسي باید په دغو لاندينيو کارونو کښې په عامه ځایونو کښې ګډون مه کوئ:

- په کوڅې یا عامه ځای کښې د الکوحلو څکل: په ډېرو ځایونو کښې په کوڅې کښې الکوحل څکل غیرقانوني دي.
- په لویو ډلو یا ګڼه ګونه کښې راټولېدل: دا کېدلای شي ګواښوونکي وي نو باید ورڅخه ځانونه وساتئ که کېدلای شي
- په عام محضر کښې ناري او چیغې وهل او ښېرې کول
- نورو ته اخطارونه ورکول یا له تېري ډک چلند ورسره کول

که تاسي دغسي چلند کوئ نو کېدلای شي چې د پولیسو لخوا بندي شئ او د مجرمانه کارونو تور دربانديولګول شي.

که تاسي ونیول شئ نو باید له پولیس افسرانو سره همکاري وکوئ.

## کثافات

کېدلای بانديچې پر تاسي باندي یوه ټاکل شوې جریمه ولګول شي که تاسي کثافات په وغورځوئ او که تاسي دا جریمه ادا نه کړئ نو بیا به لا نوره زیاته جریمه ورکولو ته اړ شئ. زیات کثافات په یوه ځای کښې امبارول یوه جدي خبره ده او که تاسي دا کار وکړئ نو کېدلای شي چې درنده جریمه درباندي راشي.

## په عامه محضر کښې ناوړه چلند

کوم چلند چې قانوني وي او تاسي يې تاسي يې په شخصي توګه پټ کولای شي مګر که د نورو عامه وګړو په مخ کښې يې وکوئ نو یو جرم ګڼل کېږي. جنسي چلند چې په عامه ځای کښې ترسره شي یا خپل جنسي اعضا په عامه ځآی کښې ښکاره کړئ نو دا یو جرم دی.

## درول او تالاشي کول

یو پولیس افسر تاسي تالاشي کولای شي که يې شک درباندي راشي چې له تاخخه داسي توکي دي چې ته يې باید ونه ګرځوئ، لکه نشه يي توکي، وسله یا غلاکړي خیزونه.

## د پیاده روه کارول

د خوندیتوب لپاره تاسي باید له پیاده رو څخه کار واخلئ چې اماده وي. تاسي له ترافیکي چراغونو سره تر سرک پوري وځئ که چېرته وي. په سکاټلنډ کښې تاسي د هر سرک په ژئ پیاده تګ کولای شي، پرته له موټر وي.

# د ګاډو او موټرو قانون




# د ګاډو او موټرو لپاره قانون

**د سړک په ټرافيکي جرمونه په لاندي ډول دي:**

- له ټکر ووسته نه درېدل
- تيز رفتار
- په داسي حالت کښې موټرواني کول چي شراب دي څيښلي وي يا نشه دي کړې وي
- په بې پروا يا خطرناکه موټروانئ مرګ اړول
- خطرناکه موټرواني
- د موټرواني پرمهال موبايل ټيليفون کارول
- بې پروا موټرواني کول
- له موټر انشورنس پرته موټرواني کول
- بې لاينسه موټرواني کول يا په کله چي ناکام شوي ياستئ
- په سره چراغ باندي ګاډی تېرول
- بې له کمربندي موټرواني کول
- له ايم او ټي پرته موټر چلول
- چي موټر دي خرابئ لرئ او ته يې بيا هم چلوې

که تاسي له جرمونه څخه يو  هم وکوئ نو جريمه به شئ، د سزا پواينټونه به واخلئ، د موټرچلولو بنديز به دربادي ولګول شي، يا به زنداني شې په دې اړه لري چي ستاسي جرم څومره جدي دی

پينلټي پواينټ يا جزايي پوايټونه هغه علامي دي چي ستاسي پر لايسنس باندي لګول کيږي د يوڅو کالو لپاره او په دې اړه لري چي ستاسي جرم څومره جدی دی. که تاسي په ۳ کالو کښې دننه تر ۱۲ زيات پواينټونه واخلئ نو تاسي به کم تر کمه د ۶ مياشتو لپاره ډسکواليفايډ يعنی ممنوع شئ. که تاسي د موټروانئ ټيسټ په تېرو دوو کلونو کښې پاس کړی وي نو کېدلای شي چي فقط په خپل لايسنس کښې په ۶ پواينټونو ډسکواليفايډ يعنی ممنو ورګرځول شئ.

**که تاسي په سکاټلنډ کښې ګاډی چلول غواړئ نو تاسي به ته دغه لاندي کارونه کول پکار وي:**

- **یو اعتباري لایسنس**: په سکاټلنډ یا برتانیې کښې هرځای په قانوني توګه موټر چلولو لپاره تاسي باید کم ترکمه ۱۷ کلن یاستئ او تاسي هرومرو تیوري او عملي د موټروانئ ټیسټ پاس کړي وي.که تاسي له یوه بهرني لایسنس سره سکاټلنډ ته راځئ نو تاسي دغه لایسنس تر ۱۲ میاشتو کارولای شئ که چیري دا اوس هم په هغه هیواد کښې د اعتبار وړ چېرته چي جاری شوی وي. له ۱۲ میاشتو وروسته، تاسي کولای شي چي په برتانیې کښې یوه بشپړه د موټروانئ ازموینه ورکړئ چي بیا په برتانیې کښې موټر چلولو ته ادامه ورکړئ.
- **روډ ټېکس**: د خپل ګاډي ټېکس ورکولو پرته هغه چلول غیر قانوني دی
- **انشورېنس**: له موټر انشورېنس پرته ګاډی چلول د قانون خلاف کار دی. تاسي باید خپله انشورېنس پالیسي وګورئ چي ډاډه شئ چي تاسي یا کوم بل څوک چي دغه ګاډی چلوي انشورېنس لرئ.
- **ایم او ټي**: ایم او ټي هغه سرټیفیکیټ دی چي دا تصدیق کوي چي دغه ګاډی د سړک جوګه دی. له ایم او ټي پرته موټر چلول غیر قانوني کار دی.

د شرابو څښلو وروسته موټروانئ حدود په سکاټلنډ کښې ۲۲ مایکروګرامه الکحل دي په ۱۰۰ ملي لیټر د ساه کښې. کېدلای شي چي له یوه ډرنک وروسته ستا حد زیات جګ ختل وي.که تاسي ډېر زیات څښل وکوئ نو کېدلای شي چي په دا بله روځ هم ستاسي حد زیات جګ وي. په سکاټلنډ کښې زیاتره خلک هیڅ شراب نه څښي په کومه روځ چي دوی موټرواني کوي او خپل حد کم ساتي که په راتلونکې روځ هغوی موټر چلوي.

ستاسي د موټر ټول ټایرونه باید ښه برابر وي د چلولو لپاره. د ټایر غوټوالی باید تر قانوني حد کم نه وي، کوم چي د کار لپاره ۱.۶ملی میټر دی.





# د کار قانون



# د کار قانون

کار په عمومي توګه هغه قرارداد ته ویل کېږي چي یو نایک و کارکونکي ته د هغه د کار په بدل کښي پیسي ورکوي. دغه قرارداد په لیکلي یا زباني بڼي کېدلای شي.

**په کارکښې تاسي دغه حقونه لرئ:**

- د کار پیلولو له نېټي وروسته په ۲ میاشتو کښي دننه د کار د شرایطو یو تحریري بیان
- له هر معاش سره د پېسلیپ ترلاسه کولو حق
- له کم تریني ملي کچي سره سم معاش ترلاسه کولو حق
- ستاسي له معاش څخه د هیڅ ډول غیرقانوني نه کمولو حق
- د رخصتئ د ورځي د معاش حق، چي په کال کښي ۲۸ کېږي د کل وقتي کارکونکي لپاره. نیمه وقتي کارکونکي د پروراټا یعني مدت سره سم د امتیاز حق لري
- د میټرنټي زېږن د رخصتي حق د ښځي او د ښځي لپاره او ښځي شریک به د پیټرنټي یعني پلاروالي رخصتی حق لري.
- دا حق چي توپیري چلند به نه درسره کېږي
- که تا له کاره ایسته کړي نو تاسي دا حق لرئ چي لیکلي دلیل وغواړي له خپل نایک څخه چي ولي تاسي کاره باسي که چیري تاسي هلته دوه کاله کار ورسره کړی وي. مګر هغه ښځي چي امیدواري دي یا په میټرنټي یعني دزېږون په رخصتئ دي د لیکلي دلیل حق لري، که هرڅومره وخت یي هلته کار کړی وي.
- که تاسي په نامناسبه توګه له کاره وایستل شئ نو تاسي د غرامانو دعوه کولو حق لرئ چي تاسي هلته دوه کاله کار کړی وي.
- نیمه وقتي کارکونکي هم هغه حقونه لري لکه کل وقتي کارکونکي چي یي لري.

که تاسي داړه نه یاستئ چي د دغو خبرو اطلاق پر تاسي باندي کېږي نو تاسي تماس ونیسئ:

- سیټیزن اډوایس بیورو سره د هغوی د ویب سایټ له لاري www.cas.org.uk

اډوایزری کونسل او اربیټرېشن سرویس چي (اې سي اې ایس) یي هم بولي د هغوی په ویب سایټ www.acas.org.uk یا پر 0300 123 1100 زنګ ووهئ



# د جرم قربانیان

# په سکاټلنډ کښي جنایات



# د جنایت قربانیان

هرڅوک د جنایت قرباني کېدلای شي – دا فرق نه کوي چې ستاسي عمر، توکم یا جنس څه دی. هرهغه څوک یو قرباني دی چې له جنایت څخه تاوان وراوښتی وی، که دا بدني وي، احساساتي وي یا مالي وي.

که تاسي د کوم جنایت قرباني یاستئ نو مه وېرېږئ او یوچاته ووایاست: څومره ژه چې تاسي حال وایاست، هغومره ژر یې تاسي مخنیوی کولای شئ او مرسته ترلاسه کولای شئ. تاسي د کورنئ یوه غړي، ملګري ته ویلای شئ چې پولیس سره خبره وکړي.

د جنایت د قرباني په توګه تاسي حقونه لرئ چې د خپلې خبرې اطلاع ورکول او مرسته ترلاسه کول پکښې شامل دي. له تاسي سره باید هرڅوک مناسب او د درناوي چلند وکړي چې ستا پر قضیې باندې کار کوي، په شمول د دې که چیري دا قضیه محکمې ته رسېږي.

که تاسي په سکاټلنډ کښې له جنایت څخه اغېزمن شوي یاست، یا تاسي داسي څوک پېژنئ چې اغېزمن شوی وي، نو داسي زیات سازمانونه شته چې مرسته، کومک او مشوره ورکوي او مفت زنګ وروهلای شئ. زیاتره محرمانه دي. هغوی له تاسو سره مرسته کولای شي چې بېرته خپل باور ترلاسه کړئ او په خپل روځني ژوند کښې د ارامئ احساس وکوئ. په دغو سازمانو کښې ځینه د همدغې کتابچې پرشا باندي یاد شوي دي.



# په سکاټلنډ کښې جرمونه

## برید

برید هغې حملې ته واي چې یو کس یې پر بل باندي کوي. په عمومي توګه دا یو جسماني برید وي. ضروري نه چې د یوه برید په نتیجه کښې زخم رامنځته شي او بیا په قانون کښې هغه یو برید وبلل شي. په برید کښې له لاسونو، پښو یا وسلې څخه کار اخیستل کېدلای شي لکه ډنډې، خښتې یا چاړې. دا هم یو برید دی که څوک پر تا لاړې تو کړي او یا اخطار درکړي چې سپی به پر دروښکاري.

زورور برید جنایت نور هم جدي کوي. برید په بېلابېلو ډولونو بدتر کېدلای شي، لکه، د وسلې په کارولو، که قرباني کس زوړ وي یا ماشوم وي؛ یا که قرباني کس باندي په خپل کور کښې برید وشي.

## آتشیني وسلې

سکاټلنډ د "ټوپک کلتور" نه لري. په سکاټلنډ کښې تاسي فقط هغه وخت یو ټوپک لرلای شئ چې تاسي یو لایسنس ولرئ. له لایسنس پرته ټوپک لرل یو جدي جرم دی او کېدلای شي چې د زندان سزا واخلئ.

## وسلې

وسلې هغه څیزونه دي چې تاوان رسولای شي او چاړې او اتشیني وسلې پکښې شاملې دي.
تاسي په عامه ځایونو کښې باید هیڅکه وسلې و نه ګرځوئ، په خانګړې توګه چاړې. د چاړې ګرځولو زیات تر زیاته سزا ۵ کاله زندان ده .

که تاسي په یوه برید کښې برخه واخلئ او یوڅوک د چاړې له ګوزار څخه مړ شي، نو کېدلای شي چې په عمري بند زنداني شئ. دا هغه وخت هم کېدلای شي ان که تاسي هغه کس نه یاست چې چاړه مو کارولې وه مګر تاسي ته معلومه وه چې یو بل کس به برید کښې چاړه لرله او کېدلای شي چې په برید کښې یې وکاروي.

## جنسي تېري

رېپ یعنی زبرزنا هغه وخت کېږي چې یو څوک له بل چا سره د هغه د خوښي پرته جنسي کار کوي. له هرچا سره د زبرزنا پېښه کېدلای شي. دا پروا نه لري چې ستاسي جنسیت، عمر یا د پوستکي رنګ څه دی. زبرزنا د ناولدو کسانو، دوستانو یا په کورنۍ کښي رامنځته کېدلای شي او د خپلوانو او / یا د هغو کسانو ترمنځ هم کېدلای شي چې واده یې سره کړی وي.

په سکاټلنډ کښي په خپلې خوښې د جنسي اړیکو نیولو لپاره عمر ۱۶ کاله دی.

دا یو تېری دی که یوڅوک کوم بلڅوک د هغه له خوښي پرته په جنسي اړیکو نیولو ته اړباسي.

دا د هر چا لپاره، که نر وي او که ښځه، یو جرم دی چې پر بل کس باندي جنسي برید وکړي.

که تاسي د جنسي تېري قرباني یاستئ نو تاسي له لاندینیو اژانسونو مرسته ترلاسه کولای شئ:

- رېپ کرایسیس سکاټلنډ - 302 010 08088
- ویکټم سپورټ سکاټلنډ - 9213 603 0345
- پولیس سکاټلنډ – ١٠١ (پرته له بیړني حالت) 999 (بیړنی حالت)

## فاحشه توب

فاحشه توب ته د یوه داسي کاروبار یا عمل په سترګه کتل کېږي چې د پیسو په بدل کښي جنسي اړیکي پکښي نیول کېږي یا د کومې بلې ګټې لپاره ترسره کېږي. دواړه هغه چې فاحشته توب کوي او هغه چې جنسي اړیکي په پیسو رانیسي د قانون ته مسول دي.



## د کرکي جنایت

"د کرکي جنایت" هغه جنایت دی چې د یوه ځانګړي ساتل شوي ګروپ په هکله د قهر یا کرکي پر بنسټ د یو کس یا جایداد په ضد ترسره کېږي.

**ته د کرکي د جنایت یو قرباني یې که ته باور لرې چې یوچا ته په نخښه کړی پ دلیل ستا د:**

- توکم
- دین
- جنسي خوښي
- ټرانسجنډر یعنی بدل جنس شناخت
- معلولیت

**د کرکي جنایت بېلابېلې بڼې لرلای شي، په شمول د دغو لاندینیو، مګر فقط دغه هم نه دي:**

- قتل
- جسماني برید
- جایداد ته تاوان اړول، لکه، ګرافیتی، اور اچول، ماتول او خرابول
- وېرونکي او اخطاري چلند په شمول د بربنډو زنګونو یا اشارو
- اخطاریه لیکونه، لیفلیټونه، پوسټرونه
- زباني تېری یا سپکاوی په ګډون د بېلابېلو نومونو
- انلاین بدماشي او تېری

**تاسي د یوې نابېړنۍ پېښې راپور پولیس ته ورکولای شئ:**

- په بیړني حالت کښي و**999** ته او په کم بیړني حالت کښي و **101** ته زنګ و هل
- په انلاین، د کرکي د جنایت فورمه د پولیس سکاټلنډ ویب سایټ ته یا د ترډ پارټي رپورټنګ سایټ له لارې.

[http://www.scotland.police.uk/contact-us/hate-crime-and-third-party-reporting/](http://www.scotland.police.uk/contact-us/hate-crime-and-third-party-reporting/)

## انساني قاچاق

انساني قاچاق یو ناروا کاروبار دی او اکثر له نورو جنایاتو سره تړلی وي لکه فاحشه توب، د نشه يي توکو کارول او د پيسو پرېمينځل. قاچاق شوي کسان کېدلای شي چې له استحصال سره مخامخ وي ځکه چې اميګرېشن حالت او اقتصاد وضعيت له کبله کېدلای شي چې له اخطارونو او تشدد سره مخامخ وي.

که تاسي باور لرئ چې د قاچاق قرباني پاته سوي ياستئ نو له پوليس يا ټريفيکينګ اوېرنيس رېزينګ الاينس (ټی اي آر اي) سره په 0141 276 7724 تماس ونيسئ.

## نشه يي توکي

د نشيه توکو کارول ستاسي پر روغتيا بده اغيزه کولای شي او پای يي مرګ هم کېدلای شي.

دوه ډوله نشه يي توکي دي چې د قانون لخوا کنټرولېږي: يو هغه چې همېشه ناقانونه وي (لکه، چرس، هيروين، ايکسټيسي، کوکېن، خت او نور) او نور هغه دي چې تر هغو ناقانونه دي مګر که تاسي يو د اعتباروړ د ډاکټر يا ډېنټيسټ نسخه لرئ ( لکه، مارفين، مېتاډون او نور).

کنټرول شوي نشه يي توکي ګرځول يا نورو ته ورکول غيرقانوني دي. که تاسي نشه يي توکي عرضه کوئ نو کېدلای شي چې زنداني شئ.

د خپل ځان لپاره د بنګو بوټي کرل يا د کوم بل چا د بوټو خسمانه کول يو ناقانونه کار دی.

په کنټرول شويو نشه يي توکو کښي لاس لرله ناقانونه کاردی.



نوي سايکوايکټيو مواد چې "ليګل هايز" يي هم بولي ډېر خطرناک دي او تاسي يي بايد ونه لرئ. که تاسي يي کوم بل کس ته عرضه کوئ، نو کېدلای شي چې تاسي قانون ماتوئ.

## د پيسو پرېمينځل

له جنايت کارئ څخه پيسي ترلاسه کول يا کارول يو جرم دی.



## غلا



غلا يو جرم دی چې کله د کوم بل چا مال په ناسمه توګه او پرته د هغه له خوښي واخيستل شي. مثالونه يي په لاندي دول دي:

- له يوه دوکان څخه غلا کول (شاپ ليفټينګ)
- يو کور ماتول (هاوس برېکينګ)
- د يو چا له باغچي څخه څيزون وړل
- موټر غلا کول

که ستا په لاس کښي داسي مال وي چې ته پوهېږي يا معقول دليل لرې چې دا د غلا مال دی نو بيا دا هم يو جرم دی چې بلهٔ بنه بلل کېږي. د سکاټس قانون لمخې د موندلو له لاري غلا هم يو جرم دی.

## ټولنيزې رسنئ يا سوشل ميډيا

د سوشل ميډيا يا ټولنيزو رسنيو په جرمونو کښي د ناسمو، اخطاريه يا تېرى کوونکو پيغامونو او /يا انځورونو کوم بلچا ته د ټويټر، فېس بوک يا د سوشل ميډيا کومي بلي لاري لېږل. دا د تاواني پيغام رسولو، ځورونکو جرمونو يا کله کله د کرکي جنایاتو په ډله کښي راتلای شي.

تاسي له دغو خبرو څخه هره يوه پوليس ته او همدارز د سوشل ميډيا سايټونه ته ويلای شئ. هغوی د تېري کونکي پرضد اقدام کولای شي چې د هغوی مجرمانه پيغامونه ايسته کړي يا د تېري کوونکي اکاونټ وربند کړي.

## پر حيوانانو باندي ظلم

يو حيوان ځورول يا تاوان وراړول يو جرم دی.

**که تاسي يو حيوان لرئ نو بايد:**

- ارام او پاک چاپېريال ورلره برابر کړئ
- همېشه يوه پاکه بستره ورکوئ
- مناسب خوراک او اوبه ورکوئ
- د ناروغ او زخمي حيوان درملنه کوئ

# د جنایت قربانیانو لره کومک:

**د سکاټلنډ پولیس**

ټیلیفون: 999 (بېړنی)

ټیلیفون: 101 (نابېړنی)

ویبسایټ: **www.scotland.police.uk**

**سکاټس ریفیوجي کونسل**

ټیلیفون: 0141 248 9799

ویبسایټ: **www.scottishrefugeecouncil.org.uk**

**ویکټم سپورټ سکاټلنډ**

ټیلیفون: 0345 603 9213 or 0808 16 89 111

له دوشنبې – تر جمعې سهار له 8 بجو د ماښام تر 8 بجو

ویبسایټ: **www.victimsupportsco.org.uk**

**رېپ کرایسیس سکاټلنډ**

ټیلیفون: 08088 01 03 02

ویبسایټ: **www.rapecrisisscotland.org.uk**

له هر هغه چا سره مفت او محرمانه کومک کوي کله هم په خپل ژوند کښې له جنسي تشدد سره مخامخ شوي وي، نیشنل افیس، 0141 331 4180، تاسي د کومک لپاره ستاسي ځایي رېپ کرایسیس سنټر له لارې وراستولای شي.

**سکاټیس ویمن اېډ**

ټیلیفون: 0131 226 6606

ویبسایټ: **www.scottishwomensaid.org.uk**

هغو ښځو ته معلومات، کومک او خوندي پنا ورکوي چي له کورني تاوتریخوالي سره مخامخ شوي وي او یا اوس مخامخ وي. ټول ګروپونه د ماشومانو لپاره سپورټ ورکران لري چي ماشومانو او ځوانانو سره مرسته کوي.



**چایلډلاین سکاټلنډ**

ټیلیفون: 0800 1111 (open 24 hours a day, 7 days a week)

ویبپاڼه: **www.childline.org.uk**

ماشومانو سره مرسرته کوي او مشوره ورکوي

**سیټیزن اډوایس بیورو**

ویبسایټ: **www.cas.org.uk**

ستاسي د حقونو په باره کښې مشوره درکوي. دغه ویبسایټ تاسي ته جزیات درکوي چي څرنګه تاسي له خپل ځایي سیټیزن اډوایس بیورو سره تماس ونیسئ.

**دی ساماریټنز**

ټیلیفون: 08457 909090

ویبسایټ: **www.samaritans.org.**

د اړمنو کسانو لپاره د مرسته یوه سرچینه

سکاټیش ډومیسټیک ابیوز هیلپ لاین

ټیلیفون: 0800 027 1234 (24 hour line)

ویبسایټ: **www.sdah.org.uk**

و هغو کسانو ته محرمانه معلومات ورکوي او مرسته ورسره کوي چي له کورني تشدد اغېزمن شوي وي. دغه مفت ټیلیفون شمېره پر ایټمایزډ ټیلیفوني بیلونو باندي نه څرګندیږي.

**شیلټر**

ټیلیفون:0808 800 4444

ویبپاڼه: **scotland.shelter.org.uk**

د کورونو عامه ستونزو او د پنا خدماتو ته لاسرسي په هکله معلومات ورکوي.

پښتو او دري ژباړه لپاره د پیسو مرسته د ون سکاټلنډ کمیونټي لخوا شوي ده

ONE COMMUNITY




## د سکاتش قانون په هکله د لا نورو معلومات لپاره وشئ:

**www.nclanarkshire.ac.uk/scotslaw**

## په خبرو کبني ګډون وکړئ

په نیو کالج لانارکشایر پسي شئ:

**facebook.com/NCLanarkshire**

**@NCLanarkshire**

### Legal Disclaimer

The information enclosed in this booklet is to be used as a general guide only and it is not a detailed statement of the law. Scotland has its own independent legal system and laws in Scotland may often be different from other parts of the UK. If you require legal advice you must always contact a solicitor or the Citizens Advice Bureau in Scotland.

**Please note:** The information contained within this publication was correct at the time of printing. New College Lanarkshire: Registered Charity Number: SC021206

New College Lanarkshire